د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر Logar

میاشتنی خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، ديني او فرهنګي خپرونه

شنبه د۱۳۹۸ کال د غبرګولي د میاشتي څلورمه، د ۲۰۱۹ عیسوي کال د مي پنځه ویشتمه ۱ پرله پسې ګڼه (۱۰۳) لومړی کال، دویمه ګڼه

رسول الله (صلي الله علیه وسلم) فرمایي : روژه او قرآن به په آخرت کې د بنده سپارښت کوي، روژه به وایې: ربه! دی مې په ورځ کې له ډوډۍ او نورو غوښتنو منعه کړی ؤ، د ده په باره کې زما سپارښت ومنه.
قرآن به وایې : دی مې دشپې له خوبه منعه کړی ؤ، د ده په باره کې زما سپارښت ومنه او دواړه به سپارښت کوي. **(رواه احمد)**

سرلیکنه ...

## دافغانستان دخاورې اصلي دښمنان څوک دي؟

**د افغانستان اصلي ستونزې د تاریخي دښمن په لمسون د خپلو ګاونډیو هېوادونو له لاسه دي، په دې کې پاکستان او ایران تر نورو مخکښ دي، روسیه او ورسره انګلیس هیوادونه د افغانانو تاریخي دښمن یادېږي، دواړه هېوادونه همدا اوس هم د تاریخي دښمنانو په لمسون د افغانستان ستونزه لا پسې اوږدوي او ترهګرو او د دولت وسلوالو مخالفو ډلو تر شا ولاړ دي.**

**په همدې حال کې افغانان د کوم هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او د هر ګاونډي او بهرني هېواد خپلواکۍ او ملي حاکمیت ته د درنښت په سترګه ګوري، خو له نورو هم ورته تمه لري.**

**پاکستان بیا دوه مخې سیاست پر مخ وړي، له یوې خوا افغانستان او نړیوالو هېوادونو ته وایي،چې ګني موږ په ګډه توګه افغانستان کې د سولې پروسې لپاره کار کوو، خو په اصل کې یې تل د افغانانو سوله ګواښلې ده او په ښکاره ډول زموږ په هېوادکې مداخلې کوي.**

**د دې لپاره پاکستان هم ترهګري ډلې روزلي او هم د افغانستان د نظام په وړاندې وسله والې ډلې، لکه اوسنی حالات چې موږ په خپل هېواد کې وینو، د دواړو هېوادونو ښکاره دښمني ده، چې زموږ په وړاندې ترسره کوي.**

**ایران هم په افغانستان کې خپلې ګټې لټوي او په تېره بیا د پرمختګ او اوبو د مدیریت مخنیوی کوي، د دې لپاره له وسله والو ډلو سره مرسته کوي او هغوی د جګړې دوام ته پر شا ټېوي. بېلګه یې دهیواد په لوېدیځ ولایتونو کې وینوو. دغه دواړه هېوادونه تل دافغانستان په جګړه کې خپلې ګټې لټوي،خو دغه حالت د هغوی په زیان او تل پاتې نه دی.**

**ولسمشر محمداشرف غني هېواد د اقتصادي پرمختګ پر لور روان کړی او داوبو دمدیریت پلانونه او په هېواد کې له وسلوالو ډلو سره دسولې راوستو هلې ځلې به یې ډېر ژر عملي شي، که یې هرڅومره ایران او پاکستان مخالفت وکړي، دا کار کیدونکی ده.**

**ولسمشر غني د ګاونډیو او تاریخي دښمنانو د ناوړې پالیسۍ او د هغوی له خوا د روانې جګړې د مخنیوي لپاره ګڼ بدیل پلانونه ترلاس لاندې نیولي، چې بیلګه یې په دې ورستو وختونو کې په هېواد کې دسولې پروسې لپاره د دولت هڅې او دسولې مشورتي جرګې یادونه کوو. خو په دې ملي پروسه کې چې سوله ده، د ولس ملاتړ ورسره ډېر اړین دی، هیله ده چې ولس د خپل هېواد د خیر ښېګڼې لپاره له خپل دولت سره په دې کې ونډه واخلي او په مخالفت کې ولاړ او ناراضه وروڼه د سولې له بهیر سره یوځای کړي.**

**بیا هغه هېوادونه مخ توري کیږي، چې زموږ په کورنیو چارو کې یې په ښکاره او یا په پټه توګه لاسوهنې کولې او افغانان یې یو بل ته لمسول.**

**نو دغه یوازنۍ لار ده، چې په خپلو کې یوالی او وروړګلوي رامنځته کړو او نور دپردیو هیوادونو له دسیسو خلاصي پیدا کړو.**

**که هیوادوال مو په اتحاد یوبل سره ودریږي، نو ان شاء الله داسې ورځ به ژر راشي، چې افغانستان دګاونډیواو نورو هیوادونو له احتیاج څخه ووځي او پخپله خودکفا واوسي. ان شاءالله**

**تربیا دخدای پامان**

**مدیر**

## یازده همین دور حفریات درساحات باستانی مس عینک لوگر آغازشد

یازدهمین دورحفریات درساحات باستانی مس عینک لوگربه تاریخ 2 ثور رسماً توسط پوهاند محمدرسول باوری معین فرهنگ وهنر ومحمد انورخان اسحاق زی والی لوگر آغازشد.

دراین دورحفریات پوهاند محمدرسول باوری معین فرهنگ وهنر، محمد انورخان اسحاق زی والی لوگر ،حسیب الله ستانکزی رییس شورای ولایتی، محمد شفیق پوپل رییس اطلاعات وفرهنگ، قومندان امنیه لوگر، رییس امنیت ملی وبرخی منسوبان دیگرازساحات باستانی مس عینک نیز دیدن نمودند.

خیرمحمد خیرزاده آمرپروژه حفریات مس عینک به آژانس باخترگفت که ساحات باستانی مس عینک درحدود پنج کیلومترمربع زمین را احتوا نموده است که به یک صدوبیست نقطه تقسیم گردیده است، وی علاوه کرد که دراین ساحات ازسال 2009 میلادی به این طرف حفریات آغاز شده است که تا اکنون بیش ازده هزار وپنجصد قلم آثار ثبت گردیده است که بیش ازسه هزار آثارمنقول به موزیم ملی کابل انتقال گردیده است وبقیه آن درموزیم ساحوی نگهداری میگردد.

این آثارمنقول شامل مسکوکات دورهای مختلف کوشانی ها تا پایان دوره یفتلی ها، مجسمه های نوع گلی، مجسمه های استوکی، فلزی، چوبی، آثارسفالی، سنگی، استخوانی وپارچه های پاپیروس میباشد.

آقای خیرزاده افزود که درجریان سال گذشته دوهزاروسیصدوچهل وشش قلم آثارمختلف النوع ازساحات باستانی مس عینک بدست آمده است که یکصدوپنج قلم آثارمنقول آماده انتقال به موزیم کابل است.

پوهاند محمدرسول باوری معین فرهنگ وهنر حین افتتاح یازدهمین دورحفریات ساحات باستانی مس عینک ازباستان شناسان،نیروهای امنیتی، واداره محلی لوگراظهارسپاس وامتنان نمود که برای حفریات درساحه باستانی مس عینک زمینه سازی نموده اند.آقای باوری وعده داد که روند حفریات را درساحات باستانی مس عینک تسریع خواهند کرد.

محمدانورخان اسحاق زی والی لوگر وحسیب الله ستانکزی رییس شورای ولایتی درجریان صحبت هایشان ارزش های فرهنگی را نشانه هویت ملی یک کشوردانستند واز وزارت اطلاعات وفرهنگ خواستند که پروسه حفریات را سریعترنمایند.



نماینده وزارت معدن سرعت کارحفریات را بسنده ندانست وازمراجع مربوطه خواست که روند حفریات را سرعت بیشتربېبخشند تا کاراستخراج مس آغازگردد.

محمد شفیق(پوپل) رییس اطلاعات وفرهنگ گفت:به اساس مصوبه شماره 32 سال 1394 شورای وزرا فیصله بعمل آمد که درولسوالی محمدآغه لوگرموزیم اعمارگردد، بیش ازیک میلیون افغانی به وزرات شهرسازی پرداخته شده تا نقشه هنگرهای موزیم دیزاین گردد ونقشه آن آماده است اما تا هنوز ازسوی وزارت اقدام عملی درراستای اعمارموزیم صورت نگرفته است وصرف اعمار دیواراحاطوی موزیم محمدآغه منظورگردیده است. **... بقیه درصفحه سوم**

## ډګرمن منیر احمد د څلورمې پلې لوأ قومندانۍ؛ سرپرست قومندان وټاکل شو

دغویي ۲۲ مه: په همدې موخه د څلورمې پلې لوأ په انګړ کې مراسم نیول شوي ؤ، چې پکې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي، د ملي دفاع وزارت مرستیال ډګر جنرال ډاکټر یاسین ضیا، د کورنیو چارو وزارت لومړی مرستیال لوی پاسوال عبدالصبورقانع، د ملي امنیت د عمومي ریاست ولایتي مرستیال ډګر جنرال عباد الله عباد، مرستیال والي تورن جنرال محمد نبي احمدزي، ملي امنیت رییس برید جنرال امیر جان ناصري، د څلورمې پلې لوأ مخکنی قومندان تورن جنرال عبدالرازق ساپي، ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي او غړي یې قریب الله سادات، امنیه قوماندان سمونوال رحم خدا مخلص او یو شمېر نورو مسؤلینو ګډون کړی ؤ.

د غونډې په پیل کې د څلورمې پلې لوأ قومندانۍ مخکنی قومندان تورن جنرال عبدالرازق ساپي ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل: د ملي دفاع وزارت پرېکړې ته لبیک وایو، د یاد وزارت رهبري تر موږ لوړه تجربه لري او باوري یم، چې په دغه پرېکړه به پښېمانه نشي، کوم چې د څلورمې پلې لوأ د قومندانۍ د رهبرۍ پړاو یې ترسره کړې ده.

ساپي زیاته کړه ؛ تیار یم چې د یو سرباز په توګه ددې هېواد په هره څنډه کې دنده ترسره کړم. تورن جنرال عبدالرازق ددغې لوأ له ټولو منسوبینو مننه وکړه، چې د زړه له کومې یې له ده سره یوځای د لوګر د ډاډمن امنیت په راوستو کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي او د یادې لوأ له منسوبینو یې غوښتنه وکړه، چې له نوي قومندان سره هر اړخیزه همکاري وکړي. دغو مراسمو ته د ملي دفاع وزارت مرستیال ډګر جنرال ډاکټر یاسین ضیا په خپلو خبرو کې د جنرال عبدالرازق ساپي کړنې وستایلې او زیاته یې کړه، چې جنرال عبدالرازق هغه زړور نظامي شخصیت دی، چې ددې هېواد او په ځانګړې توګه د لوګر ولایت د ښه امنیت په راوستو کې څو ځلې ټپي شو ؛ خو بیا یې هم ددې هېواد خدمت او ساتنه په ځان فرض ګڼلې وه.

وروسته د څلورمې پلې لوأقومندانۍ نوي قومندان ډګرمن منیر احمد وویل: زموږ لومړیتوب د لوګر ولایت ډاډمن امنیت ته کار کول او په دغه برخه کې به خپلې چارې ګړندۍ کوو، تر څو ددې ولایت شته امنیتي ستونزو ته د پای ټکی کېږدو. لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي دغونډې ګډونوالو ته وویل؛ په ماموریت کې تغیر او تبدیل یو اصل دی خو داسې تبدلي دې هر چاته ور په برخه شي، لکه جنرال عبدالرازق ته چې په تګ یې نه یوازې د څلورمې پلې لوأ منسوبین؛ بلکې د ولایت رهبري او ددې ولایت عام ولسونه خواشیني دي.



د یادونې وړ ده، چې وروسته د څلورمې پلې لوأ نوي قومندان ډګرمن منیر احمد رسماً د یادې لوأ منسوبینو ته وروپېژندل شو او مخکني قومندان ته د ولایت د رهبري لخوا د عزت پکړۍ ورپه سر او له لوګر ولایت سره مخه ښه وکړه. له دغو مراسمو وروسته د ملي دفاع وزارت مرستیال ډګر جنرال ډاکټر یاسین ضیا، د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، ډګرجنرال محمد حبیب حصاري، د دفتر رییس احمد خالد ساپي، د څلورمي پلې لوأ قوماندان ډګرمن منیراحمد او یو شمیر نور مسؤلینو د دولت په دښته کې دملي اردو دجوړ شوي کنډک څخه لیدنه وکړه او اړوندو چارواکو ته یې د ښه امنیت دټینګښت ترڅنګ زیاته کړه، چې ددوي سره هر ډول همکارۍ او ملاتړ ته تیار دي. **دلوګر درسنیو مرکز**

## با شانزده فامیل متضررین جنگ ها، مساعدت شد

پل علم باختر2ثور: موسسه (کمک) بالای شانزده فامیل متضررین جنگ ها مواد خوراکی توزیع نمود. این مساعدت که توسط الحاج محمد انور خان (اسحاقزی) والی لوگر در حالیکه تورن جنرال محمد نبی (احمدزی) معاون ولایت، احمد خالد صافی رییس دفتروسایر مسولان حضور داشتند، توزیع گردید. به گفته مسوول موسسه (کمک) این(13)قلم مواد خوراکی وغیر خوراکی شامل آرد، برنج، روغن، چای، لوبیا، بوره وغیره بوده که بالای شانزده فامیل ... **بقیه درصفحه چهارم**

**روژه درحمتونو، برکتونو، مغفرتونو او د دوزخ له اورڅخه دخلاصون میاشت ده!**